هفته واره رساله :354
WEEKLY BOOKLET:354

امیرِ اہلِ سنّت کی کتاب "عاشقانِ رسول کی 130 حکایات" کی ایک قسط

# د مدینې جوماتونه

PASHTO











فاروقِ اعظم او مسجدِ قبا

مسجدِ شَیخَین

مسجدِ سجده

مسجدِ مینارَتَین


شیخِ طریقت، امیرِ اہلِسنّت بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطّار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن

اَمَّا بَعْدُ! فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم

دا مضمون د کتاب ”عاشقانِ رسول کی 130 حکایات مع مکے مدینے کی زیارتیں“ صفحه 295 نه تر 321 پورې اخستے شوے دے.

## د مدينے جوماتونه

دُعائے عطّار: يا رَبِّ كريم! څوک چې دا رساله ” **د مدينے جوماتونه**“ ولولي يا واوري، د هغهٔ د مکے او مدينے با ادبه حاضري نصيب کړې او هغهٔ سره د موره او پلاره بے حسابه اوبخښې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د خوږ آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چې کله د زيارت ورځ راشي، **الله** پاک فرښتې راوليږي د کومو سره چې د سپينو زرو کاغذ او د سرو زرو قلمونه وي، چې څوک د زيارت په ورځ او د جُمعې په شپه په ما باندې په کثرت سره دُرُودِ پاک لولي هغوئي يـې ليکي. (کنز العمال، 250/1، حديث: 2174)

شافعِ روزِ جزا تم پہ کروڑوں دُرود　　دافعِ جُملہ بلا تم پہ کروڑوں دُرود

(حدائقِ بخشش، ص264)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مدينے منورې د يو څو جوماتونو ذِکرِ خير

په مدينه منوره او د دې خواؤ شاه کښې ګڼ شمير داسې جوماتونه دي کوم چې د **الله** پاک د محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لور منسوب دي. د برکت حاصلولو په طور د يو څو ذِکر کولے شي د پاره د دې چې زيارت کوونکي عاشقان دا ولټوي او چې چرته ورته جوماتونه ميلاؤ شي هلته نفلونه ادا کړي او چې چرته آثار بيا نه مومي هلته د ارمان په نظر د فضاګانو زيارت وکړي او برکت حاصل کړي او

هلته دعاګانې وکړې چې کوم کوم ځائے ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړے دے هلته دُعا قبليږي. حضرت علّامه شيخ عبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ عشق او مستئ کښې خومره ښکلې خبره کړې ده "اَربابِ بَصيرت (يعني د زړۀ نظر لرونکو) ته دا معلومه ده چې پۀ دې (د مکے او مدينے پۀ غرونو او دَرو کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جمال [يعني حُسن] اثر او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو کمال خومره د نورانيت نه ډک ظاهريږي! بے شکه د دې سبب دا دے چې پۀ دې ټولو ځايونو کښې هيڅ يوه داسې ذره نشته پۀ کومه چې د هغوئي نظر مبارک نه وي لګيدلے او هغې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار شرف نه وي حاصل کړے. (جذب القلوب، ص:148)

آکہ میں روح کی ہر تہ میں سمولوں تجھ کو
اے ہوا تونے تو سرکار کو دیکھا ہوگا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿1﴾ مسجِدِ قُبا

پۀ مدينه منوره کښې تقريباً درې کلوميټره د جُنوب مغرب په لور "قُبا" نومې يو پخوانے کلے دے چرته چې دا مُتَبَرَّک جومات جوړ کړے شوے دے، پۀ قرآنِ کريم او صحيح حديثونو مبارکو کښې د دې ډير فضائل بيان شوي دي. د مسجدُ النَبوِيّ الشَّريف نه پيدل پۀ درميانه مزل تقريباً په 40 منټو کښې عاشقانِ رسول مسجِدِ قُبا ته رسيدے شي. پۀ بخاري شريف کښې دي: "حُضورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر خالي پۀ ورځ کله پيدل نو کله پۀ سورلئ باندې مسجِدِ قُبا ته تشريف وړلو.
(بخاري، 402/1، حديث: 1193)

## د عُمرې ثواب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه فرامين: ﴿1﴾ پۀ مسجِدِ قُبا کښې نـمونځ کول د "عمرې" برابر دے. (ترمذي، 348/1، حديث: 324) ﴿2﴾ چا چې پۀ خپل کور کښې اودس وکړو او بيا مسجِدِ قُبا ته لاړو او نـمونځ يـې وکړو نو هغۀ ته به د "عُمرې" ثواب ميلاويږي. (ابن ماجه، 175/1، حديث: 1412)

## فاروقِ اعظم او قُبا

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ چې كله مسجِدِ قُبا ته داخل شو نو ارشاد يې ووفرمائيلو: په الله پاک مې دې قَسم وي! زما په دې جومات كښې يو نـمونځ كول په بيتُ المُقَدَّس كښې د يو نـمونځ كولو نه پس د څلورو ركعتونو كولو نه زيات خوښ دے، او كه دا جومات چرته په لرې علاقو كښې وے نو بيا به هم مونږ په اوښانو باندې تللو او فنا كولو به مو (يعنې د دې د زيارت د پاره به مونږ ضرور سفر كولو). (كنز العمال، 62/7، حديث: 38174)

## عبدُ الله بن عُمَر او قُبا

حضرت عبدُ الله اِبنِ عمر رضی اللہ عنہما به د هر خالي په ورځ مسجِدِ قُبا ته حاضريدلو.

(مسلم، ص: 724، حديث: 1399)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿2﴾ مسجِدِ فَضِيخ

دا جومات مبارک د مسجِدِ قُبا نه د مشرق په لور په يو كلوميټر فاصله كښې دے. چې كله اِسلامي لښكر د بني نُضَير محاصَره كړې وه نو هغه وخت د مدينے د شهنشاه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم مباركه خيمه په دې ځائے كښې لګولے شوې وه او په دې ځائے كښې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم شپږ ورځې نـمونځونه ادا كړي وو. (وفاء الوفاء، 821/2) د دې په يادګار كښې دا جومات جوړ كړے شو. بعضې خلقو به د غلط فهمۍ په وجه دې ته "مسجِدِ شمس" وئيلو.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿3﴾ خَمسه (يا سَبعه) مساجد

د مدينهٔ طيّبه په شمال مغربي طرف د سَلع غر په لـمن كښې پينځه جوماتونه د يو بَل خوا ته دي. په اصل كښې مخكښې دلته 7 جوماتونه وو، په عَربۍ كښې 7 ته "سَبع" وئيلے شي ځكه دا علاقه د "سَبع مساجد" په نوم مشهوره وه. اوس پينځه جوماتونه پاتې دي او په عربۍ كښې پينځو

ته ”خَمسه“ وئيلے شي ځکه پۀ ورو ورو دا ځائے د ”**خَمسه مساجد**“ پۀ نوم مشهور شو. پۀ دې پينځۀ کښې يو جومات د ”مسجدُ الفتح“پۀ نوم پۀ ډيرى باندې د پاسه جوړ دے چرته چې د بَره تللو د پاره پوړۍ هم خَتلې دي. د ”غَزوۀ اَحزاب“ پۀ موقع باندې (کوم ته چې غزوۀ خندَق هم وئيلے شي) د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مسجدُ الفَتح پۀ ځائے کښې د ګل، نهې، شروع [يعنې چارشنبې] درې ورځې د مسلمانانو د فتح او نُصرت د پاره دعا فرمائيلې وه، پۀ دريمه ورځ د ماسپښين او مازديګر ترمينځه د فتح زيرے ورکړے شو او دومره کامِل فتح نصيب شوه د کومې نه پس چې هميشه کافران مغلوب (يعنې دباؤ) پاتې شول.

حضرت جابِر رَضِىَ اللهُ عَنْه فرمائي: ”چې کله ما ته څۀ مشکل راپيښ شي نو ”مسجِدِ فتح“ ته ځم او دُعا کووم نو مشکل حل کيږي.“ د مسجدُ الفتح نه علاوه د نورو شپږو جوماتونو نومونه دا دي: ﴿1﴾مسجِدِ ابو بکر صِدِّيق رَضِىَ اللهُ عَنْه (دا پۀ اصل کښې مسجِدِ علي بن ابي طالب دے)، ﴿2﴾ مسجِدِ عمر بن خطاب رَضِىَ اللهُ عَنْه، ﴿3﴾ مسجِدِ علي رَضِىَ اللهُ عَنْه پۀ ماضي قريب کښې د مسجِدِ ابو بکر صِدِّيق پۀ نوم مشهور وو، ﴿4﴾ مسجِدِ سيِّدۀ فاطمه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا ، (دا جومات د صحابۀ کرامو په وخت کښې نه وو، د دې څۀ تاريخ منقول نه دے، وئيلے شي چې د 1329ھ (1911ء) نه پس جوړ کړے شوے دے)، ﴿5﴾مسجِدِ سلمان فارسي رَضِىَ اللهُ عَنْه ، ﴿6﴾ مسجِدِ ابوذَر غِفاري رَضِىَ اللهُ عَنْه .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ مسجِدِ غَمامه

د مکے مکرمې يا د جَدَّې مبارکې نه چې کله د مدينے منورې پۀ لور راځې نو د مسجدُ النَّبوِيّ الشَّريف د رارسيدو نه مخکښې د اوچتو ګنبدونو يو ډير ښکلے جومات راځي هم دا ”مسجِدِ غَمامه“ دے. زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمپۀ 2 ھ کښې پۀ ورومبي ځل د وړوکي اختر او غټ اختر نـمونځ پۀ دې ځائے کښې پۀ فراخه ميدان کښې ادا کړے وو. هم دلته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د باران د پاره دعا فرمائيلې وه، د دعا فرمائيلو سره وريځې راغلې او باران راښکې شو. ”وريځې“ ته پۀ عربۍ ژبه کښې غَمامَه وئيلے شي پۀ دې نسبت سره دې ته اوس مسجِدِ غَمامه

وئيلے شي. دلته فراخه ميدان وو، د وړومبۍ صدۍ مجدِّد، اميرُ المؤمِنين حضرت عمر بن عبدُ العزيز رحمۃُ اللہِ علیہ دلته جومات جوړ کړو.

صَــلُّــوْا عَــلَـی الْــحَــبِـیْــب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿5﴾ مسجِدِ اِجابه

دا جومات مبارک د مدينے منورې په ډيرو پخوانو 9 جوماتونو کښې دے کوم چې په شارع مَلِک فيصل (پخوانے نوم شارع سِتّين يا مخکښې خواؤ شاه) د جنّتُ البقيع په شمال مشرقي اړخ (د شارعِ سِتّين او شارعِ ملک عبدُ العزيز چوک کڅ اړخ) ته دے. په دې ځائے کښې يو ځل زمونړه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم دوه رکعته ادا کړي وو او "درې دُعاګانې" يـې کړې وې په هغې کښې دوه قبولې شوې او د يوې نه منع کړے شو. هغه درې دُعاګانې دا وې: ﴿1﴾ يا **الله**! زما اُمَّت د قحط سالۍ په سبب مۀ هلاکوې. (قبوله شوه)، ﴿2﴾ يا **الله**! زما اُمَّت د ډوبيدو سره مۀ هلاکوې. (قبوله شوه)، ﴿3﴾ يا **الله**! چې زما اُمَّت په خپل مينځ کښې اونه جنګيږي. (منع کړے شو)، (مسلم، ص: 1544، حديث: 2890)

صَــلُّــوْا عَــلَـی الْــحَــبِـیْــب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿6﴾ مسجِدِ سُقيا

دا جومات مبارک د عجائب ګهر سره نزدې د مدينے منورې د ريلوے سټيشن په احاطه کښې دے، مسجِدِ سُقيا په هغه تاريخي ځائے باندې جوړ کړے شوے وو چرته چې دا ايمان تازه کوونکے واقعه شوې وه. اميرُ المؤمِنين حضرت مولائے کائنات، عليُّ المُرتضیٰ شيرِ خُدا رضی اللہ عنہ بيانوي: د رسولُ الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم سره مونږ د مدينے منورې نه ووتلو، چې کله د سَعد بن ابي وقاص رضی اللہ عنہ د حَرَّةُ الـسُقيا خوا ته ورسيدو نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اوبه راوغوښتې، اودس يـې وکړو او قبلې ته يـې مخ کړو او د مدينے منورې د اوسيدونکـو د پاره يـې د خير او برکت داسې دُعا ووفرمائيله: اے **الله** پاکه! ابراهيم ستا بنده او خليل وو، هغوئي د مکے والؤ د پاره د برکت دُعا فرمائيلې وه او زۀ ستا بنده او رسول يم ستا نه د مدينے والؤ د پاره سوال کووم چې د دوئي په مُد او صاع

(دا د دوو پيمانو نومونه دي پهٔ دې) کښې د مکے والؤ پهٔ نسبت دوه چنده برکت عطا کړې.
(ترمذي، 482/5، حديث: 3940)

## ﴿7﴾ مسجِدِ سجده

"مسجِدِ سجده" پهٔ هغه مُقدَّس ځائے کښې دے چرته چې يوه مشهوره واقعه شوې وه، د مکتبة المدينه د 743 صفحو پهٔ کتاب، "جنّت میں لے جانے والے اعمال" په صفحه 496 باندې دي: د حضرت عبدُ الرّحمان بن عوف رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې رسولُ الله صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم يو ځل بهر تشريف راوړلو نو زهٔ هم وريسې شاته شاته رااروان شوم. نبي کريم صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم يو باغ ته داخل شو او سجدې له يې تشريف يوړلو، هغوئي دومره اوږده سجده وکړه چې زهٔ ويريدم چې هسې نه الله پاک [د هغوئي] روح مبارک قبض کړے نه وي! نو زهٔ ورنزدې شوم او پهٔ غور مې کتل شروع کړل، چې کله يې د سجدې نه سَر مبارک راوچت کړو نو اوئې فرمائيل: "اے عبدُ الرحمان! څهٔ وشو؟ ما پهٔ جواب کښې خپله انديښنه ظاهره کړه نو اوئې فرمائيل: جبرئيلِ اَمين (علیہ السّلام) ما ته ووئيل: "آيا تا دا خبره نه خوشحالوي چې الله پاک فرمائي چې څوک پهٔ تا باندې دُرُودِ پاک ولولي زهٔ به پهٔ هغهٔ باندې رحمت نازل کړم او څوک چې پهٔ تا باندې سلام راوليږي زهٔ به پهٔ هغهٔ باندې سلامتي نازله کړم." (مسنداحمد، 406/1، حديث: 1662)
د يادګار پهٔ طور پهٔ دې ځائے باندې "مسجِدِ سجده" جوړ کړے شوے وو. نن سبا هغه پهٔ جديد طريقه جوړ کړے شوے دے خو هلته پهٔ رازوړنده تخته باندې "مسجِدِ اَبوذَر" ليکلے شوے دے.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿8﴾ مسجِدِ ذِباب (يا مسجِدِ رايه)

د "ثَنِيَّةُ الوَداع" نه د جَبَلِ اُحُد پهٔ لور د تللو پهٔ وخت ګڅ اړخ ته د مدينے منورې نه د شمال اړخ ته پهٔ "ذِباب" نومې غر باندې د غزوهٔ تَبوک نه پهٔ واپسۍ يا د بعضې روايتونو مطابق د "غزوهٔ خَندَق" پهٔ موقع باندې د مدينے د سرکار، د مکے مکرمې د سردار صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم خيمه مبارکه لګولے شوې وه. روايت دے چې د دواړو جهانونو سردار صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم پهٔ "جبلِ ذِباب" باندې نـمونځ هم ادا کړے دے. (جذب القلوب، ص: 137136، وفاء الوفاء، 875/2) پهٔ دې مبارک غر باندې اميرُ المؤمنين حضرت عمر بن

عبدُ العزيز رحمۃُاللہِ علیہ د يادګار پۀ طور يو جومات جوړ کړو کوم ته چې "مسجِدِ ذِباب" يا "مسجِدِ رايه" وئيلے شي. دې ته به پۀ مخکښې "مسجِدِ قَرين" او "مسجِدِ زاوِيه" هم وئيلے شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿9﴾ مسجِدِ عَينَين

دا جومات مبارک د حضرت حمزه رضی اللہ عنہ د دروازې مبارکې مخې ته د قبلې اړخ ته پۀ غر "جَبَلُ الرُّماة" باندې وو، د اُحُد پۀ ورځ باندې د اِسلامي لښکر غشي ويشتونکي پۀ دې باندې ولاړ وو. وئيلے شي چې حضرت حمزه رضی اللہ عنہ پۀ دې ځائے کښې پۀ نيزه لګيدلے وو. د جابِر رضی اللہ عنہ نه روايت دے: شهنشاهِ خيرُ الانام صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم د صحابۀ کرامو علیہم الرّضوان سره هلته د وسلې سره نـمونځ ادا کړے وو. (وفاء الوفاء، 849848/2)

## ﴿10﴾ مسجِدِ مَشرَبه اُمِّ ابراهيم

دا جومات مبارک د حَرَّه شَرقِيَّه سره نزدې پۀ نخلستان (يعني د کجورو په باغ) کښې وو. مَشرَبه يعني باغ او د اُمِّ ابراهيم نه مُراد اُمُّ المؤمِنين حضرت ماريه قِبطِيه رضی اللہ عنہا ده، دا هم د هغې باغ وو او د حقيقي مَدَني ماشوم، د عاشقانِ رسولِ د سترګو د تور، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم د ځوي حضرت ابراهيم رضی اللہ عنہ ولادت باسعادت هم دلته شوے وو. د مدينے د سرکار صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم نه پۀ دې ځائے کښې نـمونځ ادا کول ثابت دي. (جذب القلوب، ص:127) نن سبا دا مقدّسه مَشرَبه يعني باغ مبارک هديره جوړه کړے شوې ده، د هديرې پۀ مينځ کښې يو وړوکے شان ښخوانے جومات دے، د کوم پۀ دالان کښې چې يو ډير زړنګ کوهے دے. د يو مُؤَرِّخ بيان دے: "زۀ چې کله هم پۀ داخليدو کښې کامياب شوے يم نو ما پۀ دې جومات کښې د تدفين سامان ليدلے دے!" د اوسنۍ چار ديوارۍ نه بهر په ښخواني طرز بغير د چهت نه يو جومات جوړ کړے شوے دے. يو مُحقِّق [يعني خيرن کار] وائي چې د دې هيڅ تاريخي حيثيت نشته، پۀ اصل کښې جومات مبارک هم پۀ مَشرَبه (يعني پۀ باغ مبارک) کښې دننه دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿11﴾ مسجِدِ بَني قُرَيظه

دا جومات مبارک د حَرَّه شَرقِيَّه خوا ته د "مسجِدِ شمس" نه پهٔ کافي فاصله د مشرق پهٔ لور د مسجِدِ فَضِيخ او مَشرَبهٔ اُمِّ ابراهيم ترمينځه وو. د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بنو قُرَيظه د محاصرې پهٔ وخت دا جومات د نـمونځ د پاره مقرر کړے وو. (فتح الباري، 106/8) د يو روايت مطابق "مسجِدِ بني قُرَيظه" پهٔ هٔغه مقدس ځائے باندې جوړ کړے شوے وو چرته چې پهٔ پينځمه هجرى (کال 627ء) کښې د غزوهٔ بنو قُرَيظه" پهٔ موقع د محبوبِ کردګار، مکي مَدَني سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره "عَرِيش" (يعنې د نـمر نه د بچ کيدو د پاره سورے) جوړ کړے شوے وو. د يو روايت مطابق د دې سره نزدې د يوې زنانه کور وو پهٔ کوم کښې چې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نـمونځ ادا کړے وو. حضرت عمر بن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فراختيا پهٔ موقع هٔغه مبارک کور هم پهٔ جومات مبارک کښې شامل کړے وو. (جذب القلوب، ص: 126)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿12﴾ مسجِدِ النُّور

يو ځل حضرت اُسَيد بن حُضَير او حضرت عُبّاد بن بِشر رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا دواړه د دربارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د شپې ناوخته خپلو خپلو کورونو ته روان شول. پهٔ توره تيارهٔ شپه کښې چې ورته لاره نه ښکاريده نو ناڅاپه د حضرت اُسَيد بن حُضَير رَضِىَ اللهُ عَنْه اَمسا روښانه شوه او دوئي دواړه پهٔ هٔغه رڼا روان وو. چې د دواړو لاره بيله بيله شوه نو د حضرت عُبّاد بن بِشر رَضِىَ اللهُ عَنْه اَمسا هم روښانه شوه او دواړه د خپلو خپلو اَمساګانو مبارکو پهٔ رڼا کښې خپل خپل کور ته اورسيدل. (مسند امام احمد، 277/4، حديث: 12407) پهٔ کوم ځائے کښې چې دواړه صحابهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا جدا شوي وو هلته يعنې د مسجد النبوي الشريف پهٔ شمال مشرقي حصه کښې د جنَّتُ البقيع نه هٔغه بَل اړخ ته چرته چې قبيله بني عبدُ الاَشهَل اوسيدله، د وړومبى صدى هجرى مُجَدِّد اميرُ المُؤمِنين حضرت عمر بن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه "مسجدُ النُّور" جوړ کړے وو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿13﴾ مسجِدِ فَسح

د جَبَلِ اُحُد پۀ لمن کښې د ”شَعَبِ جَرَّار“ پۀ لور پۀ لار کښې يو وړوکے شان جومات دے. د غزوۀ اُحُد د مشهور او معروف وړوکي مجاهد حضرت رافِع رضی اللہ عنہ نه روايت دے: ”خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم دلته يو څو نمونځونه ادا کړي وو.“ (تاريخ المدينة المنورة لابن شبه، 57/1) د مَطَرِي د قول مطابق ”د ماسپښين او مازديګر نمونځونه يې دلته ادا کړي وو.“ (وفاء الوفاء، 848/2) د بعضې مُؤَرّخِينو پۀ نزد پۀ غزوۀ اُحُد کښې د مدينے د سرکار صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم زخمونه مبارک دلته وينځلے شوي وو ځکه دا جومات د ”مسجِدِ غسل“ پۀ نوم هم مشهور وو. سګِ مدينه عُفِيَ عنه ډير کلونه مخکښې پۀ دې ځائے کښې د جومات يو کنډر ليدلے وو د کوم نه چې ګير چاپيره د اوسپنې ازغن تارونه لګيدلي وو. غالِباً هم دا ”مسجِدِ فَسح“ وو. دا زمونږ د خوږ مکي مَدَني محبوب صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د سجدے د ځائے يادګار دے.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿14﴾ مسجِدِ بني ظفر (يا مسجِدِ بَغله)

د جنّتُ البقيع شرقي [يعني نمر خاته] اړخ ته د حَرَّه شَرقِيَّه پۀ لور د ”اَوس“ نومې قبيلې يو ښاخ ”قبيله بني ظفر“ اوسيدلو، دا ”مسجِدِ بني ظفر“ هلته وو، دې ته مسجِدِ بَغله (يعني د قچرو والا جومات) هم وئيلے کيږي. هلته د دواړو جهانونو سردار صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم پۀ يوه غونډۍ تشريف فرما شوے وو او د حضرت عبدُ الله بن مسعود رضی اللہ عنہ نه يې تلاوت اوريدلے وو او دومره يې ژړلي وو چې ګيره مبارکه يې پۀ اوښکو باندې لمده شوې وه. (معجم کبير، 243/19، حديث:546) هُغه غونډۍ مبارکه تَبَرُّکاً پۀ جومات کښې ساتلے شوې وه، عاشقانِ رسول به د هغې پۀ زيارت باندې خپلې سترګې يخولې. بعضې مُؤَرِّخينو ليکلي دي چې بے اولاده زنانه به پۀ هغې باندې کښيناستې او دعاګانې به يې کولې نو د اولاد نعمت به يې نصيب کيدو. (جذب القلوب، ص:128) هلته نور هم تبرکات وو، پۀ کومو کښې چې پۀ يوه ګټه مبارکه باندې د آخري نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د سورلۍ قچر د ښنګر مبارکه نخښه وه، پۀ يو کاڼي مبارک باندې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د سنګل مبارک او د مقدسو ګوتو

مبارکو نخښې وې. (جذب القلوب، ص:128)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿15﴾ مسجِدِ مائِده

د مسجِدِ بَني ظفر سره نزدې "مسجِدِ مائِده" وو. منقول دي چې دا په هٰغه ځائے جوړ کړے شوے وو کوم چې نبي کريم صَلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم د نَجران د نصرانيانو سره د مُباهَلې د پاره منتخب کړے وو او په کوم ځائے کښې چې حضرت سلمان فارسي رضی اللہ عنہ د سرکارِ نامدار صَلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم د پاره لرګي ودرولي وو او خپل څادر يـې پرې اچولے وو او سورے يـې پرې کړے وو او خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم د خپل اهلِ بيتو سره هلته تشريف راوړے وو. د يو تاريخي روايت مطابق په دې ځائے کښې د زړونو قرار، د مدينے تاجدار صَلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم او د اهلِ بيتِ اطهار د پاره د جنّت نه په "پينځوو لوښو" کښې خوراک نازل شوے وو. ځکه دې ته "مسجِدِ پنج پياله" هم وئيلے شي. دلته عاشقانِ رسول د يادګار په طور ګنبد جوړ کړے وو. په 1400ھ کښې سګِ مدينه عُفِيَ عَنه د هٰغه مقدس ځائے د کنډر زيارت کړے وو، ګنبد وغيره موجود نه وو، د عاشقانِ رسول د پاره د هٰغه فضاګانو زيارت کول او په عشقِ رسول کښې غمژن کيدل هم ډير لوئې سعادت دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿16﴾ مسجِدِ بني حرام

دا جومات مبارک د حضرت جابِر بن عبدُ الله رضی اللہ عنہ د هٰغه کور مبارک په ځائے باندې عاشقِ رسول، حضرت عمر بن عبد العزيز رحمۃُ اللہ علیہ جوړ کړے وو، چرته چې د سرورِ کائنات صَلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم دا درې معجزې ظاهرې شوې وې: ﴿1﴾ د يوې چيلۍ [په پئيو] ډير (د يو روايت مطابق (1500) صحابهٔ کرام علیہمُ الرضوان ماړه شوي وو، ﴿2﴾ آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم په هډوکو باندې لاس مبارک کيښودے وو او څهٔ يـې پرې لوستلي وو نو چيلۍ راژوندۍ شوې وه، ﴿3﴾ د حضرت جابِر رضی اللہ عنہ وفات شوي دوه مَدَني ماشومان د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم په دُعا باندې راژوندي شوي وو.

(د دې ايمان تازه کوونکو واقعاتو تفصيل د "فيضانِ سُنَّت" پهٔ جلد اوّل صفحه 345 نه 349 باندې وګورئ) پهٔ دې کور مبارک کښې د دواړو جهانونو سردار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو نـمونځ هم ادا کړے وو. دا جومات مبارک، د مسجد النبوي الشريف نه د "خَمسه مساجِد" پهٔ لور د "اَلسِّيح" پهٔ علاقه کښې د سړک ښي اړخ ته پهٔ هٔغه کلي کښې دننه دے کوم چې د جَبَلِ سِلع پهٔ لمن کښې اباد دے. پهٔ کال 1409ھ کښې پهٔ پخوانو بنيادونو باندې دلته ډير ښکلے جومات جوړ کړے شوے وو خو د بهر ملکونو نه راغلي حاجيان صاحبان او معتِمرين به اکثر د دې د ديدار نه محرومه پاتې کيدل ځکه چې دا پهٔ ابادئ کښې دننه لټول مشکل دي.

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿17﴾ مسجِدِ شَيخَين

د مسجد النبوي الشريف نه د حضرت حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْه د مزار پهٔ لور د تللو پهٔ وخت ګڅ اړخ ته د لرې نه دا جومات مبارک ښکاري. دې مبارک ځائے ته ډير زيات مَدَني نسبتونه حاصل دي مثلاً ﴿1﴾د غزوهٔ اُحُد د پاره د تللو پهٔ وخت د رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمدلته وړومبے قيام فرمائيلے وو او د شپې څهٔ حصه يـې تيره کړې وه، ﴿2﴾ دلته خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو يا دوه نـمونځونه ادا کړي وو، ﴿3﴾ پهٔ دې ځائے کښې يـې بدن مبارک ته زرې او وسله اچولې وه، ﴿4﴾ دلته يـې د جنګي تياريانو معائينه او د مجاهدينو انتخاب فرمائيلے وو او ډير مَدَني ماشومان يـې واپس ليږلي وو، ﴿5﴾ هم دلته مَدَني ماشوم حضرت رافِع رَضِیَ اللهُ عَنْه د ځان لوئي ښودلو د پاره د ښپو د ګوتو پهٔ سوکو ولاړ وو نو د بارګاهِ رحمت نه اجازت ميلاؤ شوے وو، پهٔ دې باندې يو بَل مَدَني ماشوم سَمُرَه بن جُندُب رَضِیَ اللهُ عَنْه عرض کړے وو چې زهٔ د رافِع نه زيات طاقتور يم، بيا دواړو کُشتي کړې وه او سَمُره غالِب شوے وو او د هغوئي سره ورته د تللو اجازت ميلاؤ شوے وو. دې جومات مبارک ته د "مسجِدُ الشَّيخَين" وئيلو وجه دا ده چې دلته د يو ړوند بوډا يهودي او د يوې ړندې بوډئ يهودنې بيلې بيلې دوه قلاګانې وې. بوډا ته پهٔ عربئ کښې "شَيخ" وئيلے شي، ځکه هٔغه ابادي د دوو بوډاګانو پهٔ سبب د "الشَّخَين" پهٔ نوم باندې مشهوره وه. د دې جومات مبارک نور نومونه هم دي ﴿1﴾ مسجِدِ دِرع، ﴿2﴾ مسجِدِ بَدائِع او ﴿3﴾ مسجِدِ عَدَوِي. نن سبا د اوقافِ مدينه له خوا دا

پۀ جديد طرز باندې جوړ کړے شوے دے او د دې نوم ”مسجِدِ خير“ کيښودے شوے دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿18﴾ مسجدِ مِستَرَاح

دا جومات مبارک د مسجِدِ شَّخَين نه پۀ لږه فاصله باندې د اُحُد شريف پۀ لور بالکل د سړک خوا ته دے. پۀ ابتدائے اِسلام کښې به دې ته ”مسجِدِ بني حارِثه“ وئيلے شو ځکه چې هلته قبيلۀ بني حارِثه (اَوسي) اوسيدله. د يو روايت مطابق يو صَحابي (حارِث بن سعد بن عُبَيدُ الحارِثي رضی اللہ عنہ) فرمائي: ”رسولُ الله صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم زمونږ پۀ جومات کښې نـمونځ ادا کړے وو.“ (وفاء الوفاء،2/865) د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم د غزوۀ اُحُد نه پۀ واپس کيدو دلته لږ شان ارام فرمائيلے وو. ځکه دې جومات ته مسجِدِ مِستَرَاح“ وئيلے شي. نن سبا دلته يو عالي شان جومات جوړ کړے شوے دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿19﴾ مسجِدِ مِصبَح (يا مسجِدِ بَني اُنَيف)

دا جومات مبارک د مسجِدِ قُبا مخې اړخ ته علاقه کښې دے. د مسجِدِ قُبا مخې ته پۀ سروس روډ باندې د ابادۍ دننه اړخ ته چې راشې نو لږ مخکښې د ”مُستَودَعَاتُ الغَسَّان“ نه فوراً پس يو پخوانے جومات مبارک غير مُسَقَّت (يعني بغير د چهت او) چار ديوارۍ نه پۀ نظر راځي د کوم پۀ اړخونو کښې چې د ملبې ډيرې هم ليدلے شوې دي. (خدائے ته به معلومه وي چې تر دې ليک پورې به هُغه جومات مبارک پۀ څۀ حال کښې وي!) د قبيلۀ بني اُنَيف خلق دلته اوسيدل، پۀ دې ځائے باندې به صحابۀ کرام عليهم الرِّضوان راجمع کيدل او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم به يې د مکے مکرمې نه د راتللو انتظار کولو، آخر د هغوئي مُراد پوره شو او د دواړو جهانونو سردار صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم د هجرت پۀ شکل کښې تشريف راوړلو. پۀ دې ځائے کښې سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم د هجرت نه پس وړومبے د سحر نـمونځ ادا کړے وو.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿20﴾ مسجِدِ بني زُرَيق

پۀ بيعتِ عُقبَه اوّل کښې د ايمان راوړلو نه پس حضرت ابو رافِع بن مالِک زُرَيق رضی اللہ عنہ د **الله** پاک د محبوب صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم پۀ مدينه منوره کښې د وُرودِ مَسعود نه مخکښې دا جومات مبارک جوړ کړے وو او ايمان راوړونکو حضراتو به هلته نمونځ ادا کولو او ابو رافِع بن مالِک زُرَيق رضی اللہ عنہ ته چې د بارګاِ رسالت صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم نه څۀ وخت نازله شوې د قرآنِ کريم کومه حصه عنايت کړے شوې وه د هغې تلاوت به يې کولو. د مکے او مدينے سرکار صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم دې جومات ته داخل شوے دے. (وفاء الوفاء، 2/857) مسجِدِ زُرَيق د مسجِدِ غَمامه او د اوسني کورټ د مينځنۍ حصې پۀ يو ځائے کښې وو، عاشقانِ رسول دې پۀ ښو ښو نيتونو سره د هُغه ځائے فضاګانې پۀ سترګو ښکلې کړې او برکتونه دې حاصل کړي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿21﴾ مسجِدِ کَتِيبَه

د مدينے منورې اَوَّلين اَنصاري صحابي حضرت ابو رافِع بن مالِک زُرَيق رضی اللہ عنہ پۀ غزوۀ اُحُد کښې شهيد شو. هغوئې د رسول الله صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم پۀ کور مبارک کښې خاورو ته وسپارلے شول. وروستو خاندان والؤ پۀ هُغه کور مبارک داسې جومات جوړ کړو چې د حضرت ابو رافِع بن مالِک زُريق رضی اللہ عنہ مزار يې پۀ دالان کښې راغلے. د صوفيائے کرامو رحمۃ اللہ علیہم مشهوره د طريقت سلسله "سَنَوسِيه" د حضرت ابو رافِع رضی اللہ عنہ د اولاد نه شروع شوې ده. د دې جومات مبارک سره نزدې تُرکو عارضي فوځي بارکونه جوړ کړي وو، پۀ عربۍ ژبه کښې فوځي بټالين يا يونټ ته "کَتِيبَة" وئيلے شي ځکه هُغه علاقې ته "کتيبه" وئيلے شوه او هم پۀ دې وجه هُغه جومات مبارک ته "مَسجِدُ الکتيبه" وئيلے شو. دا جومات د يوې پخوانۍ مُنارې سره د دې ليک نه يو څو کاله مخکښې پورې باقي وو، د پينځ وخته نمونځونو ترکيب پکښې هم وو.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿22﴾ مسجِدِ بني دِينار

امیرُ المُؤمِنین حضرت ابو بکر صِدّیق رضی اللہ عنہ د هجرت نه پس پۀ مدينه منوره کښې د بني دينار بن النَّجّار د خاندان د يوې زنانه سره واده کړے وو، يو ځل هغوئي د مدينے د سرکار صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم پۀ خدمت کښې دعوت پيش کړو او د تشريف راوړلو او د نـمونځ ادا کولو سره يـې د کور منور کولو خواست وکړو. د هغوئي دعوت قبول کړے شو او خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم هلته تشريف يوړلو او نـمونځ يـې ادا کړو. (وفاء الوفاء،866/2) پۀ دې کور مبارک باندې عمر بن عبد العزيز رحمۃ اللہ علیہ د يادګار پۀ طور "مسجِدِ بني دينار" جوړ کړو. وروستو پۀ بني دينار علاقه کښې دوبيان اباد شول، هلته دوبي ګاټ جوړ کړے شو، پۀ کومې چې هغه محله د "علاقه غسّالين" پۀ نوم مشهوره شوه او دې جومات ته به "مسجِدِ غسّالين" وئيلے شو. نن سبا دې ته "مسجِدِ مُغَيسَلَه" وئيلے شي. د دې جومات مبارک نوې پته دا ده: مَـحَلَّةُ الـمَاحِه، د مدرسه عَسکَرِيه نه شاته پۀ ابادئ کښې تقريباً نيم کلو ميټر دننه اړخ ته دا جومات جوړ کړے شوے دے. اوس د دې تاريخي متبرک جومات سره نزدې د جديد سهولتونو يو غټ جومات جوړ کړے شوے دے. چې له وجې يـې د هغه جومات مبارک پۀ لور د خلقو رُجحان کم دے او د دې پۀ اصلي حيثيت باندې د ګمنامئ نخښې راخورې دي.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!     صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿23﴾ مسجِدِ بني مينارَتَين

د حضرت حَرَام بن سَعد بن مُحَيِّصَه رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې رسول الله صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم پۀ دې ځائے کښې نـمونځ ادا کړے وو. (وفاء الوفاء،878879/2) عاشقانِ رسول د يادګار پۀ طور دلته "مسجِدِ مينارَتين" جوړ کړے وو. د دې پته دا ده: د مسجد النبوي الشريف نه د شارِعِ عَنبريه (مخکښينے نوم شارِعِ مکّه) نه تير شئ او د وادي عَقيق پۀ لور لاړ شئ نو تقريباً پۀ نيم کلوميټر فاصله باندې به پيټرول پمپ راشي، د هغې نه لږ شان مخکښې ښي اړخ ته يو فراخه ميدان دے چرته چې يو غټ جومات جوړ کړے شوے دے، کوم ته چې "مسجِدِ مينارَتَين" وئيلے شي.

## مړه شوې چيلۍ

دا مشهوره واقعه هم د ”مسجِدِ مينارَتين“ والا ځائے پۀ لور د تيريدلو پۀ وخت رامخې ته شوې وه. يو ځل خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د صحابۀ كرامو عليهم الرّضوان سره پۀ دې ځائے تيريدلو. ناڅاپه رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم يوه مړه چيلۍ وليدله د كومې نه چې بدبوئي راتلله، صحابۀ كرامو عليهم الرّضوان پۀ كپړو باندې پوزې پټې كړې پۀ كومې چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائيلو: د دې چيلۍ پۀ خپل مالِک باندې څۀ اثر وينئ؟ هغوئي عرض وكړو: يَا رَسُولَ الله! دا څۀ اثر ښودلے شي؟ رسولِ ذيشان، مكي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: د **الله** پاک پۀ وړاندې دا دُنيا د دې نه هم سپكه ده لكه څنګه چې دا چيلۍ د خپل مالک د پاره سپكه ده. (وفاء الوفاء، 878/2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿24﴾ مسجِدِ جُمُعه

دا جومات مبارک د مسجِدِ قُبا نه د مسجد النبوي الشريف پۀ لور د تللو پۀ وخت ښي اړخ ته راځي. د هجرت مبارک پۀ موقع باندې د قُبا شريف نه د فارغيدو سره محبوبِ ربُّ الانام صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د صحابۀ كرامو عليهم الرّضوان سره غازِمِ مدينه شو او دا جلوس مبارک چې كله د ”بني سالِم“ پۀ علاقه راتيريدلو نو د هٔغه ځائے خلقو د څۀ وخت د پاره دغلته د قيام كولو خواست وكړو كوم چې منظور كړے شو. پۀ دغه وخت كښې د جُمعې د نـمونځ وخت راغلے، نو رحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د صحابۀ كرامو عليهم الرّضوان سره د جَمعې سره وړومبے د جمعةُ الـمبارک نـمونځ ادا كړو. پۀ كوم ځائے كښې چې نـمونځ ادا كړے شو هلته باقاعده جومات جوړ كړے شو.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿25﴾ مسجِدِ مِعرَاس

دا جومات مبارک د ميقاتِ اهلِ مدينه ” ذُوالـحُلَيفَه“ نه د قبلې پۀ لور وو. دا پۀ هٔغه مقدس ځائے باندې وو چرته چې آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د مكے مكرمې نه پۀ واپسۍ باندې شپه

تیره کړي وه او ارام یې فرمائیلے وو. اوس د دې جومات مبارک زیارت نشي کیدے!

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿26﴾ مسجِدِ ذُوالحُلَیفَه

دا جومات مبارک د مسجِدِ النبوي الشریف په جنوب مغرب کښې تقریباً په 9 کلومیټره فاصله باندې دے. نن سبا دا ځائے د بیرِ علي یا اَبیارِ علي په نوم باندې مشهور دے او دا د اهلِ مدینه منوره میقات دے. د مسجِدِ ذُوالحُلَیفَه مخکښینے نوم "مسجِدِ شَجَره" دے. د حضرت عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہما نه روایت دے چې آخري نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم به د مدینے منورې نه د "شجره" په لاره بهر تشریف وړلو او د مُعَرَّس په لاره باندې به مدینے ته راتللو او چې کله به یې مکّۃُ المکرَّمه ته تشریف وړلو نو په "مسجِدِ شجره" کښې به یې نمونځ ادا کولو او چې کله به یې واپس تشریف راوړلو نو په ذُوالحُلَیفَه کښې به یې د خوړ په مینځ کښې نمونځ ادا کولو، هلته به یې ټوله شپه قیام کولو تر دې چې سحر به شو. (بخاري، 516/1، حدیث: 1533) حضرت عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہما فرمائي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم په ذُوالحُلَیفَه کښې شپه تیره کړې وه او په هغه جومات کښې یې نمونځ ادا کړے وو. (مسلم، ص:607، حدیث:1188) رسول الله صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم چې کله د حِجَّۃُ الوَدَاع د پاره تشریف وړلو نو ذُوالحُلَیفَه ته په رسیدو یې هلته په جومات کښې دوه رکعته ادا کړل. (تاریخ المدینۃ المنورہ، ص:501502) اوس دلته د "مسجِدِ ذُوالحُلَیفَه" په نوم یو عالیشان جومات جوړ کړے شوے دے.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿27﴾ مسجِدِ قِبلَتَین

دا مبارک جومات په مسجِدِ اَلحَرَّۃُ الوَبَرَۃ (اَلحَرَّۃُ الغَرِبیَّه) کښې د "وادِي عقیق" د "العَرصَه" نومې میدان په خوا کښې دے. مساجدِ خَمسه هم هلته نزدې دي. "بیرِ رُومَه" (یعني د عثمانِ غني رضی اللہ عنہ کوهے) د مدینے منورې په لور د تللو په وخت د دې جومات مبارک ښې اړخ ته راځي. رسولِ اکرم، نورِ

مُجَسَّم صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم دلته د ماسپښين نـمونځ ادا کړے وو. دا جومات د مسجِدِ مُقَدَّس ”بَنو سُلَيم“ په نوم مشهور وو ځکه چې دلته قَبيلهٔ بَنو سُلَيم اوسيدله. د هجرت په 17 مياشت په 15 رَجَبُ المُرَجَّب دويمه هجرى (جنوري 624ء) د خالي پهٔ ورځ زمونږ خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم دلته لا د ماسپښين دوه رکعته ادا کړي وو چې د قبلې د بدليدو حکم نازل شو، باقي پاتې دوه رکعته يـې د بَيتُ الله شريف پهٔ لور د مخ کولو سره ادا کړل. پهٔ دې وجه د دې نوم مسجِدِ قِبلَتَين (يعني د دوو قبلو والا جومات) شو. د يادګار پهٔ طور عاشقانِ رسول د بيتُ المُقَدَّس پهٔ لور پهٔ ديوال کښې د قبلې نخښه جوړه کړې وه او پهٔ هغې کښې يـې ”د قبلې د بدليدو آيتونه“ ليکلي وو، عاشقانِ زائرين دا نخښه هم مَسه کوله او برکت به يـې حاصلولو. اوس هُغه ديوال مبارک لرې کړے شوے دے او د صدر دروازے پهٔ لور پهٔ چهت باندې د قبلهٔ اوّل پهٔ لور د اظهار د پاره د مُصَلّے نقشه جوړه کړے شوې ده.

## دا رساله ولولئ او نورو له يـې هم ورکړئ

د غم ښادى پهٔ دستورو، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد پهٔ جلوسونو وغيره کښې د مکـتبة الـمدينه چاپ شوې رسالې او د مَدَني ګلونو پمفلټس تقسيم کړئ او ثواب وګټئ، ګاهک ته د ثواب پهٔ نيت پهٔ تحفه کښې د ورکولو د پاره پهٔ خپلو دکانونو کښې هم د رسالو کيښودو معمول جوړ کړئ، د اخبار خرڅوونکو يا ماشومانو پهٔ ذريعه د خپلې محلې پهٔ هر کور کښې د مياشتې کم از کم يوه د سنّتو ډکه رساله يا د مَدَني ګلونو پمفلټ ورکړئ او د نيکى دعوت عام کړئ او ښه ډير ثواب وګټئ.

## د راتلوکې هفتې رساله




978-969-722-662-7
01082496

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net